# دافغانستان اسلامي جمهوريت

## دعدليي وزارت

# رسمي جريده

● د ځانــګړو محکمـــو د تشکیل او واک قانـــون

● قـــانون تـــشکیل و صلاحیت محاکم خاص

د خپريدو نېټه:د ۱۳۸۹ هـ .ش کال د زمري د مياشتې (۴)

پرله پسې نمبر: (۱۰۳۳)

تاريخ نشر : (۴) اسد سال ۱۳۸۹هـ . ش

نمبر مسلسل: (۱۰۳۳)

**در این شماره :**

**قانون تشکیل و صلاحیت محاکم خاص.**


| | |
|---|---|
| **د امتیاز خاوند:** | **دعدلیي وزارت** |
| مسئول چلوونکی : | حیدر "محقق" |
| | ۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸ |
| د دفتـــر تیلـــفون : | ۲۱۰۳۳۷۵ |
| مـــرستــــــیــــــال: | نور علم |
| | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتــــــــمـــــــم: | محمد جان |
| | ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲ |
| وب ســــــــایت : | www.moj.gov.af |

قیمت این شـــــــماره : (۳۰) افغاني

تیـــــــــــراژ چاپ اول: (۴۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

## د ځانګړو محکمو د تشکيل او واک د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

**ګڼه:** (۵۱)

**نېټه:** ۱۳۸۹/۴/۳۰

**لومړۍ ماده:**

د ځانګړو محکمو د تشکيل او واک قانون چې د وزيرانو شوري د ۱۳۸۹/۴/۲۱نېټې د (۱۷) ګڼې مصوبې پربنسټ تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چاروکې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شوري د لومړۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د ديرش ورځو مودې په ترڅ کې هغې شوري ته وړاندې کړي.

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشيح قانون تشکيل وصلاحيت محاکم خاص

**شماره:**(۵۱)

**تاريخ:** ۳۰ /۴ /۱۳۸۹

**مادۀ اول:**

قانون تشکيل وصلاحيت محاکم خاص را که به اساس مصوبۀ شماره(۱۷) مؤرخ ۲۱/ ۴/۱۳۸۹ شورای وزيران تصويب گرديده است توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

وزير عدليه و وزير دولت درامور پارلمانی مؤظف اند، اين فرمان را درخلال مدت (۳۰) روز ازتاريخ انعقاد اولين جلسۀ شورای ملی،به آن شوری تقديم نمايند.

**دريمه ماده:**

دغه فرمان له قانون سره يوځای پــه رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**مادهٔ سوم:**

اين فرمان همراه با قانون ازتــاريخ نــشر درجريــدهٔ رســمی نافــذ می گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د ځانګړو محکمو د تشکيل او**
**واک د قانون په هکله،**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د**
**وزيرانو شوري**
**مصوبه**

ګڼه: (۱۷)

نېټه: ۱۳۸۹/۴/۲۱

د ځانګړو محکمو د تشکيل او واک قانون چې په (۴) فصلونو او (۲۲) مادوکې د وزيرانو شوري د ۱۳۸۹/۴/۲۱نېټې په غونډه کې تصويب شوی، منظور دی.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت**
**رئيس**

**مصوبۀ**
**شورای وزيران جمهوری اسلامی**
**افغانستان درمورد**
**قانون تشکيل وصلاحيت محاکم**
**خاص**

شماره:(۱۷)

تاريخ: ۲۱ / ۱۳۸۹/۴

قانون تشکيل وصلاحيت محاکم خاص که بداخل (۴) فصل و(۲۲) ماده در جلسۀ مؤرخ۱۳۸۹/۴/۲۱ شورای وزيران تصويب گرديده،منظور است.

**حامدکرزی**
**رئيس جمهوری اسلامی**
**افغانستان**

# فهرست مندرجات

## قانون تشکیل و صلاحیت محاکم خاص

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنیٰ | ۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادهٔ سوم: | ساحهٔ تطبیق | ۲ |

فصل دوم

کشف ، تحقیق و اقامهٔ دعوی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ چهارم: | کشف و تحقیق جرم | ۳ |
| مادهٔ پنجم: | هیئت تحقیق | ۴ |
| مادهٔ ششم: | انفصال مؤقت | ۵ |
| مادهٔ هفتم: | مطالبهٔ توقیف | ۵ |
| مادهٔ هشتم: | مدت تحقیق | ۶ |
| مادهٔ نهم: | محل تحقیق | ۷ |
| مادهٔ دهم: | اقامهٔ دعوی | ۷ |

فصل سوم

محکمه خاص

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ یازدهم: | تشکیل محکمهٔ خاص | ۷ |
| مادهٔ دوازدهم: | سوگند | ۹ |

مادۀ سیزدهم: استقلالیت محکمۀ خاص............................ ۹
مادۀ چهاردهم: مستند حکم........................................ ۱۰
مادۀ پانزدهم: علنیت محاکمه........................................ ۱۰
مادۀ شانزدهم: ذکر اسباب حکم درفیصله........................... ۱۱
مادۀ هفدهم: مراحل رسیدگی ........................................ ۱۱
مادۀ هجدهم: انحلال محکمۀ خاص.................................. ۱۱

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ نزدهم: حقوق دورۀ انفصال.................................. ۱۲
مادۀ بیستم: مهر....................................................... ۱۲
مادۀ بیست ویکم: مقر.................................................. ۱۳
مادۀ بیست دوم: انفاذ.................................................. ۱۳

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ځانګړو محکمو د تشکیل او واک قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون په اته اویایمه او یوسلو اووه ویشتمه ماده کې د درج شووحکمونو له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱ــ د وزیر( دحکومت دغړي ) او دسترې محکمې د رئیس او غړي د جرمونود کشف، تحقیق، د دعوي د اقامې او په رسیدګۍ پورې د اړوندو

## قانون تشکیل وصلاحیت محاکم خاص

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون به تأسی ازاحکام مندرج مواد هفتادو هشتم ویکصدو بیست وهفتم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم امور مربوط به کشف ،تحقیق ، اقامهٔ دعوی و رسیدگی به جرایم وزیر (عضو حکومت) و رئیس وعضو

چارو تنظیمول .

۲ـ د کشف او تحقیق د مراجعو د دندو او واکونو او ددې مادې په (۱) جزءکې د درج شوو اشخاصو د محکمې د تشکیل او د محاکمې د کړنلارې تنظیمول .

۳ـ د قانون د حاکمیت د اصل په پام کې نیول او د عادلانه محاکمې تأمینول.

د تطبیق ساحه

درېیمه ماده:

ددې قانون حکمونه په لاندې اشخاصو باندې تطبیقېږي:

۱ـ برحال وزیر او هغه وزیران چې د حکومت د تشکیل له نېټې څخه د افغانستان د اساسي قانون د یوسلو یوشپېتمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم پربنسټ ټاکل شوي او د دندې د تصدۍ په وخت کې د جرم مرتکب شوي وي.

ستره محکمه .

۲- تنظیم وظایف وصلاحیت های مراجع کشف و تحقیق وتشکیل محکمه و طرزالعمل محاکمۀ اشخاص مندرج جزء (۱) این ماده.

۳- رعایت اصل حاکمیت قانون وتأمین محاکمۀ عادلانه.

ساحۀ تطبیق

مادۀ سوم:

احکام این قانون بالای اشخاص ذیل تطبیق می گردد:

۱- وزیر برحال ووزرائی که از تاریخ تشکیل حکومت به اساس حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ یکصدو شصت ویکم قانون اساسی افغانستان تعیین وحین تصدی وظیفه، مرتکب جرم گردیده باشند.

۲ــ د سترې محکمــې رئـيس او غړی چې د ســترې محکمــې د تشکيليدو له نېټې څخه د افغانستان داساسي قانون د يوسلو يوشپېتمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم پربنسټ ټاکــل شــوي او د دندې د تصدی په وخت کې د جرم مرتکب شوي وي.

## دوه يم فصل

## کشف، تحقيق او د دعوي اقامه

**د جرم کشف او تحقيق**

**څلورمه ماده:**

(۱) ددې قانون د درېيمې مادې په (۱) جزء کې درج شوی وزيــر (د حکومت غــړي) تــه د منــسوبو جرمونــو کــشف او تحقيــق د افغانستان د اساســي قــانون پــه يوسلوڅلوردېرشمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره،

۲–رئيس وعضو ستره محکمه که از تاريخ تشکيل ستره محکمه به اســاس حکــم منــدرج فقــرهٔ (۲) مادهٔ يکصدو شصت ويکــم قــانون اساســی افغانــستان تعيين وحــين تــصدی وظيفــه، مرتکــب جــرم گرديــده باشند.

## فصل دوم

## کشف،تحقيق واقامهٔ دعوی

**کشف وتحقيق جرم**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) کــشف و تحقيــق جــرايم منسوب به وزير (عضو حکومت) منــدرج جــزء(۱) مــادهٔ ســوم ايــن قــانون بارعايــت حکــم منــدرج مــادهٔ يکــصدو ســی وچهــارم قــانون اساســی افغانــستان،

ددې قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

(۲) د سترې محکمې رئيس او غړي ته د منسوبو جرمونو کشف او تحقيق د افغانستان د اساسي قانون په يوسلو اووه ويشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره، ددې قانون د حکمونو په حدودوکې صورت مومي.

**د تحقيق هيئت**

**پنځمه ماده:**

ددې قانون د دريمې مادې په (۱) جزء کې د درج شوو اشخاصو د جرمونو تحقيق د دوو تنو مسلکي مجربو او لوړ رتبه څارنوالانو په واسطه، د لوی څارنوال تر رياست لاندې صورت مومي.

(۲) د سترې محکمې رئيس او غړي ته د منسوبو جرمونو تحقيق د افغانستان د اساسي قانون په يوسلو

مطابق احکام اين قانون صورت می گيرد.

(۲) کشف وتحقيق جرايم منسوب به رئيس و عضو ستره محکمه با رعايت حکم مندرج مادهٔ يکصدوبيست وهفتم قانون اساسی افغانستان درحدود احکام اين قانون صورت می گيرد.

**هيئت تحقيق**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) تحقيق جرايم اشخاص مندرج جزء(۱) مادهٔ سوم اين قانون توسط دو نفر څارنوالان مسلکی مجرب وعالی رتبه تحت رياست لوی څارنوال صورت می گيرد.

(۲) تحقيق جرايم منسوب به رئيس و عضو ستره محکمه بارعايت حکم مندرج مادهٔ يکصدو بيست

اووه ويشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره، د ولسي جرگې له يوه تن غړي چې په عدلي او قضايي چارو کې کاري سابقه ولري، د هغې جرگې د رئيس په ټاکنه، لوی څارنوال ، د سترې محکمې د عالي شوري په ټاکنه د سترې محکمې د يوه غړي تر رياست لاندې څخه د جوړ هيئت په واسطه صورت مومي.

**مؤقت انفصال**

**شپږمه ماده:**

که چېرې د جرم په ارتکاب له تورن برحال وزيرڅخه د تحقيق اوضاع د هغه د توقيف غوښتنه وکړي، د لوی څارنوال په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ له دندې څخه موقتاً منفصل کېږي.

**د توقيف غوښتنه**

**اوومه ماده:**

(۱) که چېرې ددې قانون په دريېمه

وهفتم قانون اساسی افغانستان، توسط هيئت متشکل از يکنفر ازاعضای ولسی جرگه که سابقۀ کاری درامور عدلی وقضائی داشته باشد. به انتخاب رئيس آن جرگه ، لوی څارنوال تحت رياست يکی ازاعضای ستره محکمه به انتخاب شورای عالی ستره محکمه صورت می گيرد.

**انفصال مؤقت**

**مادۀ ششم:**

هرگاه اوضاع تحقيق از وزير برحال متهم به ارتکاب جرم،ايجاب توقيف وی را نمايد ،به پيشنهاد لوی څارنوال ومنظوری رئيس جمهور از وظيفه موقتاً منفصل می گردد.

**مطالبۀ توقيف**

**مادۀ هفتم:**

(۱)هرگاه اوضاع تحقيق

ماده کې له درج شوو اشخاصو څخه د تحقیق اوضاع د تورن د توقیف غوښتنه وکړي، د توقیف اجازه د تحقیق د رئیس په وړاندیز له ځانګړې( خاصې) محکمې څخه اخیستل کېږي.

(۲)د توقیف موده له احوالو سره سم زیات نه زیات د دوو میاشتو مودې لپاره تمدیدېدی شي، له دوو میاشتوڅخه زیاته د تمدید موده، ددې قانون په اتمه ماده کې د درج شوو احوالو او شرایطو تابع ده.

(۳) ددې ډول اشخاصو توقیف، له نورو توقیف شووڅخه جلا په توقیف ځای کې صورت مومي.

## د تحقیق موده

**اتمه ماده:**

ددې قانون په دریمه ماده کې د درج شوو اشخاصو تحقیق، له احوالو سره سم زیات نه زیات تر دوو میاشتو مودې پورې بشپړېږي.

از اشخاص مندرج مادۀ سوم این قانون ایجاب توقیف متهم رانماید، اجازۀ توقیف به پیشنهاد رئیس تحقیق از محکمۀ خاص، اخذ می گردد.

(۲) مدت توقیف حسب احوال حداکثر برای مدت دوماه تمدید شده می تواند، تمدید توقیف بیش از دوماه تابع احوا ل و شرایط مندرج مادۀ هشتم این قانون می باشد.

(۳) توقیف چنین اشخاص جدا از سایر توقیف شده گان درتوقیف خانه صورت می گیرد.

## مدت تحقیق

**مادۀ هشتم:**

تحقیق اشخاص مندرج مادۀ سوم این قانون، حسب احوال حد اکثر الی مدت دو ماه تکمیل می گردد.

که چېرې د موجهو دلیلونو له مخې تحقیق د دوو میاشتو په موده کې بشپړ نشي، د ځانګړې محکمې رئیس کولی شي د تحقیق موده تر نورو دوو میاشتو پورې تمدید کړي. له څلورو میاشتوڅخه زیات د تحقیق تمدید، د تحقیق د هیئت په وړاندیز او د ځانګړې محکمې په توافق صورت مومي.

### د تحقیق ځای

**نهمه ماده:**

ددې قانون په درېیمه ماده کې له درج شوو اشخاصوڅخه تحقیق، د تحقیق د هیئت له صوابدید سره سم په مناسب ځای کې صورت مومي.

### د دعوي اقامه

**لسمه ماده:**

ددې قانون په درېیمه ماده کې د درج شوو تورنو پرعلیه د دعوي اقامه، د اړوند تحقیق د هیئت د رئیسانو په واسطه، صورت مومي.

هرگاه بنابر دلایل مؤجه ، تحقیق درمدت دوماه تکمیل شده نتواند، رئیس محکمهٔ خاص می تواند مدت تحقیق را الی دوماه دیگر تمدید نماید.تمدید تحقیق بیش از چهار ماه به پیشنهاد هیئت تحقیق وتوافق محکمهٔ خاص صورت می گیرد.

### محل تحقیق

**مادهٔ نهم:**

تحقیق از اشخاص مندرج مادهٔ سوم این قانون حسب صوابدید هیئت تحقیق درمحل مناسب،صورت می گیرد.

### اقامهٔ دعوی

**مادهٔ دهم:**

اقامهٔ دعوی علیه متهمین مندرج مادهٔ سوم این قانون توسط رؤسای هیئت تحقیق مربوط ،صورت می گیرد.

## دريیم فصل

## ځانګړې محکمه

### د ځانګړې محکمې تشکيل

**يوولسمه ماده:**

(۱)د وزير د محاکمې په منظور د سترې محکمې ځانګړې محکمه، د سترې محکمې درېو غړوپه ترکيب،تشکيلېږي.

د محکمې رئيس او غړي د سترې محکمې د عالي شوري په تصويب ټاکل کېږي.

(۲)د سترې محکمې د رئيس او غړي د محاکمې په منظور، ځانګړې محکمه، د پنځو تنو په ترکيب په لاندې توګه تشکيلېږي:

۱ــ د ولسي جرګې له غړو څخه دوه تنه چې حقوق پوهان او په عدلي او قضايي چاروکې د کافي تجربې لرونکي وي،د نومړې جرګې په تصويب.

## فصل سوم

## محكمۀ خاص

### تشکيل محكمۀ خاص

**مادۀ يازدهم:**

(۱) محكمۀ خاص به منظور محاكمۀ وزير مركب از سه عضو ستره محكمه تشكيل مى گردد.

رئيس واعضاى محكمه به تصويب شوراى عالى ستره محكمه تعيين مى شوند.

(۲) محكمۀ خاص به منظور محاكمۀ رئيس و عضو ستره محكمه ، مركب از پنج نفر به ترتيب ذيل تشكيل مى گردد:

۱- دو نفر از اعضاى ولسى جرگه كه حقوقدان ودارای تجربۀ كافى درامور عدلى وقضائى باشند به تصويب جرگه مذكور.

**۲ــ د مشرانو جرگې له غړوڅخه يو تن چې حقوقپوه او په عــدلي او قضايي چاروکې د کــافي تجربــي لرونکی وي د نومړې جرگې پــه تصويب.**

**۳ــ د محکمې د رئيس په شمول، د ستړې محکمې له غړوڅخــه دوه تنه د ستړې محکمې د عالي شوري په تصويب.**

**سوگند**

**دوولسمه ماده:**

**ددې قانون د يوولسمې مادې پــه (۲) فقره کې د درج شوې ځانگړې محکمې غړي، د ستړې محکمې د غړو په استثنا، د دندې له اجرأ څخه دمخه، لاندې حلف د جمهوررئيس په حضورکې پرځای کوي:**

**د لوی خدای(ج) په نامه ســوگند يادوم چې حق او عدالت به د اسلام دسپېڅلي دين، د اساسي قــانون د**

**۲- يکنفر از اعــضای مــشرانو جرگــه کــه حقوقــدان ودارای تجربــهٔ کــافی درامــور عــدلی وقضائی باشد، به تصويب جرگــهٔ مذکور.**

**۳- دو نفــر از اعــضای ســتره محکمه به شمول رئيس محکمــه بــه تــصويب شــورای عــالی ستره محکمه .**

**سوگند**

**مادهٔ دوازدهم:**

**اعضای محکمهٔ خاص مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ يازدهم اين قــانون، بــه استثنای اعضای ستره محکمه قبل از اجــــرای وظيفــــه ،حلــــف آتی را به حضور رئيس جمهوربجا می آورند:**

**بنــــام خداونــــد بــــزرگ (ج) سوگند ياد می کــنم کــه حــق وعدالت راطبق احکام دين مقدس**

نصوصو او د افغانستان د نورو قوانينو د حکمونو مطابق تأمينوم او د قضاوت دنده په بشپړ امانت، صداقت اونااپييلتوب سره اجرأ کوم.

## د ځانګړې محکمې خپلواکي

**ديارلسمه ماده:**

ځانګړې محکمه د قضيې د رسيدګۍ پر وخت خپلواکه ده، خپل حکم د هغهٔ قناعت پربنسټ چې ورته دليلونو له وړاندې کولو څخه رامنځته کېږي، د قانون د حکمونو په حدودوکې صادروي. د ځانګړې محکمې په واسطه رسيدګي او د حکم صادرول د قانون او محکمې په وړاندې د قضيې د اړخونو د تساوۍ د اصل پربنسټ د عدالت او ناپلوې د په نظرکې نيولو سره صورت مومي.

اسلام ، نصوص قانون اساسی وساير قوانين افغانستان تأمين نموده، وظيفهٔ قضاوت را با کمال امانت ، صداقت وبی طرفی اجراء نمايم.

## استقلاليت محکمهٔ خاص

**مادهٔ سيزدهم:**

محکمهٔ خاص حين رسيدگی قضيه مستقل بوده، حکم خود را بر اساس قناعتی که ازدلايل ارايه شده نزد آن فراهم می شود، در حدود احکام قانون صادر می نمايد. رسيدگی و اصدار حکم توسط محکمهٔ خاص بر اساس اصل تساوی طرفين قضيه در برابر قانون ومحکمه با رعايت عدالت وبيطرفی صورت می گيرد.

**د حکم مستند**

**څوارلسمه ماده:**

**ځانګړې محکمه په رسيدګۍ وړ قضيوکې، د افغانستان د اساسي قانون، دغهٔ قانون او نورو قوانينو حکمونه تطبيقوي.**

**د محاکمې علنيت**

**پنځلسمه ماده:**

**ځانګړې محکمه، محاکمه په ښکاره ډول دايروي، خو داچې د مصلحت يا د آدابو يا عامه نظم پربنأً، د غونډې نه ښکاره والی تجويز شي. د حکم اعلام په هرحال کې په ښکاره توګه صورت مومي.**

**په فيصلې کې د حکم د اسبابو ذکر**

**شپاړسمه ماده:**

**ځانګړې محکمه، مکلفه ده د حکم اسباب چې صادروي يې په فيصله کې ذکر کړي.**

**مستند حکم**

**مادهٔچهاردهم:**

**محکمهٔ خاص درقضایای مورد رسیدگی، احکام قانون اساسی افغانستان ،این قانون و سایر قوانین را تطبیق می نماید.**

**علنیت محاکمه**

**مادهٔ پانزدهم:**

**محکمهٔ خاص،محاکمه را بصورت علنی دایر می نماید،مگر اینکه بنابر مصلحت یارعایت آداب یا نظم عامه،غیر علنی بودن جلسه تجویز گردد. اعلام حکم در هر حالت طور علنی صورت می گیرد.**

**ذکر اسباب حکم در فیصله**

**مادهٔ شانزدهم:**

**محکمهٔ خاص مکلف است اسباب حکمی را که صادر می کند ، درفیصله ذکر نماید.**

د رسيدګۍ پړاوونه

اوولسمه ماده:

د ځانګړې محکمې فيصله قطعي او وروستۍ ده او د استيناف وړ نده.

د ځانګړې محکمې انحلال

اتلسمه ماده:

(۱) ځانګړې محکمه د حکم له صادرولو او اړخونو ته له ابلاغ او د فيصلې له ليکلوڅخه وروسته منحلېږي.

(۲) د ځانګړې محکمې فيصله د تنفيذ پــه غرض د څارنوالۍ ادارې ته استول کېږي، د فيصله اصل او نور سندونه او پاڼې فهرستېږي او ستره محکمې ته لېږل کېږي او د هغې په آرشيف کې ساتل کېږي.

څلورم فصل

متفرقه حکمونه

د انفصال د دورې حقوق

نولسمه ماده:

(۱) ددې قانون په دريمه ماده کې د درج شوو اشخاصو د حقوقو او

مراحل رسيدگی

مادۀ هفدهم:

فيصلۀ محکمۀ خاص قطعی و نهائی بوده،قابل استيناف نمی باشد.

انحلال محکمۀ خاص

مادۀهجدهم:

(۱) محکمـــــۀ خــــاص بعــــد از اصدار حکم و ابلاغ آن به طــرفين و تحرير فيصله منحل می گردد.

(۲) فيصلۀ محکمۀ خاص غرض تنفيذ به ادارۀ څارنوالی ارسال ،اصل فيصله وساير اسناد و اوراق ، فهرست و بـــه ستره محکمه فرســتاده شــده و در آرشيف آن حفظ می شود.

فصل چهارم

احکام متفرقه

حقوق دورۀ انفصال

مادۀ نزدهم:

(۱) اجرای حقــوق و امتيــازات اشخاص مندرج مادۀ سوم اين قانون

امتيازونو اجراء کول د عزل، لــه دندې څخه د انفصال، توقيــف او محاکمې په حالاتو کې ځنډېږي.

(۲) که چېرې د تحقيق هيئت يــا محکمه د دعوي د اقامه کولو د نه لزوم قرار صادر او يــا محکمــه د تورن په برائت حکــم وکــړي، د تعليق د دورې معاش او نور حقوق او امتيازونه هغه ته ورکول کېږي.

مهر

شلمه ماده:

ځانگړې محکمه د مخصوص مهــر لرونکې ده چې پــه هغــهٔ کــې د افغانستان د اسلامي جمهوريــت نښان او د محکمې نوم حک او د محکمې له انحلال وروسته ســترې محکمې ته سپارل کېږي.

د محکمې مقر

يوويشتمه ماده:

د ځانگړې محکمې مقر د کابل په ښار کې دی.

در حالات عزل ،انفصال از وظيفه، توقيف ومحاکمه معطل قــرار داده می شود.

(۲) هر گاه هيئت تحقيق يا محکمه قرار عدم لزوم اقامهٔ دعوی را صادر ويا محکمه به برائت متهم حکــم نمايــــد،معاش وســـاير حقـــوق وامتيازات دورهٔ تعليــق بــه وی پرداخته می شود.

مهر

مادهٔ بيستم:

محکمــهٔ خـــاص دارای مهـــر مخصوص می باشد که در آن نشان دولت جمهوری اسلامی افغانستان واسم محکمـــه حـــک و بعـــد از انحلال محکمه به ستره محکمـــه سپرده می شود.

مقر محکمه

مادهٔ بيست و يکم:

مقر محکمهٔ خاص در شهر کابـــل می باشد.

**انفاذ**

**دوه ويشتمه ماده:**

**دغه قانون په رسمي جريده کـــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.**

**انفاذ**

**مادۀ بيست ودوم:**

**اين قانون از تاريخ نشردر جريـــدۀ رسمی نافذ می گردد.**

# اشتراک سالانه:

در مرکز و ولایات :　　　(۹۰۰) افغانی

براي مامورين دولت:　　　با ۲۵ فيصد تخفيف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

خارج از کشور:　　(۲۰۰) دالر امریکائي

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- **Law on Organization and Jurisdiction of Especial Courts**

Date: ٢٦th *JULY.* ٢٠١٠
ISSUE NO :(١٠٣٣)